عبدالرحمن فرقاني
د عربي ورځپانی څخه ژباړه شوي

۲۰۰۹/۱۰/۱۸

# دناتو معضله په افغانستان کي په کليوالو سيموو کي خوريدل که په لويوښارونوکي د دفاع لپاره متمرکز کيدل ؟

د دينيس کوبر ريوټ

دافغانستان په ختيځ کي د ناتو او طالبانو ترمنځ وحشتناکه جګړي پدغه کړکيچ باندي رڼا اچوي چي د ناتو ځواکونه ورسره مخامخ دي :
د ناتو ځواکونه په کليوالو سيموو کي تيتول او که په لويو ښارونوکي د مقاومت د حملو په وړاندي ځاي په ځاي کيدل ؟
دناتو او امريکايي ځواکونو په لسګونو جنګيالي د ورځي په رڼا کي د طالبانو د عناصرو له خوا په ګن شمير ولايتونو کي وژل کيږي، چي له امله يې وژونکی او سختي جګړي د طالبانو او ناتو ځواکونو ترمنځ د ځو شپو او ورځو لپاره ترسره کيږي، او د امريکا او نړيوالو ځواکونو مشر جنرال ماك کريستال په افغانستان کي د څلويښتو زرو نويو جنګياليو غوښتنه کړي ده پداسي حال کي چي د لويو ښارونو په منځ کي يې د مقاومت په وړاندي په تمرکز باندي ټينګار کړي دي، مګر کارپوهانو او کتونکو د دغی استراتيژی د فعاليت او موثروالي په هکله اندينښه او شك څرګند وي او د طالبانو د نفوذ د کړي د خوريدو زمينه سازي يې پکي نغښتي بولي.
دسياسي څيړنو او کتنو د افغاني مرکزمسول هارون مير د کومي تيروتني څخه خبره کوي او زياتوي چي اتيا په سلوکی د افغانستان وګړي په کليووکي ژوند کوي او که د ناتو ځواکونه د دوي له ساتني او حمايت څخه لاس په سر شي نو دوي به د طالبانو تر ولکه لاندي راشي، او روان حالت هم همداسي دي.
د ايکوس د څيړنو موسسه وايي چي د افغانستان د خاوري په اتيا په سلو کي طالبان په دايمی توګه شتون لري، د افغانستان له کليوالو سيموو څخه د ناتو د ځواکونو وتل به د پاکستان د قبايلي سيمي په څير يوه سيمه وزيروي چي د قبايلو واکمني په کي حاکمه ده لکه چي دی ايکوس د موسسي مشره نورين ماکدونالد وايی، د ايکوس د موسسه مشره دواړي تګلاري يعني په کليوالو سيموو کي خوريدل او په لويو ښارونو کي متمرکز کيدل په يوځاي عملي کول بهتره ګڼي او زياتوي چي د ناتو د ځواکونو وتل او په شا کيدل له کليوالو سيمو څخه طالبانو ته د آزادي ګرځيدا را ګرځيدا واك ور په برخه کوي او پدي کي د دوي د بريالیتوب راز هم نغښتی بولي.
له جنرال ماك کريستال څخه وړاندي جنرال ديويد ماکيرنان په کليوو باندي حمله وروړل غوره ګڼل، خوپه لويو ښارونو کي د حملو ديروالي د ماك کريستال د استراتيژي د بدلون لامل شو، او د ايکوس د موسسه مشره نورين ماکدونالد د جګړيزو ځواکونو ګرځيدا د خلکو په وړاندي په ښارونو کي چی نفسي اغيزه لري يو اساسي کار بولي چی بايد تر سره شي، د ناتو د ځواکونو ويانده په ډاګه کوي چی داسي ندي چی کليوالی سيمي مهمي ندي خو ضروري خبره دا ده چی د تهديد او ګواښ کچه وخيژل شي.
او هارون مير وايي چی د طالبانو د حملو زياتوالی په ګوته کوي چی د ناتو استراتيژي د پاکستان له پولي سره سمه نده چی د مقاومت ډلو پکښي خپلی اډي جوړي کړي دي، او له هغه ځايه پر افغانستان باندي د جګړيز بريد تياري نيسي او زياتوي چی طالبان د ناتو او نړيوال ځواکونو د کمښت څخه پدي غرنی سيمه کي ګټه پورته کوي. او د لا زياتو حملو توقع په سرحدي سيمووکي کوي، او دا استراتيژي يی د مجاهدينو له جنګي استراتيژي سره نيږدي وبلله چی د روسي يرغل په مهال پلي شوي وه، خو د ايساف د ځواکونو د وياندي په اند په ختيځ کي د ځواکونو بيا نشريدل به د ګواښ په کچه تر سره شي او زياته يی کړله چی په ختيځ کي هر وخت د دوي ځواکونه شتون لري خو دا ناشونی ده چی په هر کلي اولاره کي د دوي ځواکونه شتون ولري.

د عربي ورځپانی څخه ژباړه شوي د دينيس کوبر ريوټ


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.